د افغانستان اسلامي جمهوریت

# د بیرغ ملي ورځې نمانځنې لپاره خصوصي سکتور، آزادو رسنیو او د ټولنیزو شبکو فعالینو ته د همکارۍ بلنه

د افغانستان حکومت د زمري (اسد) په ۷مه نېټه د بیرغ ملي ورځ نمانځي، په دې مناسبت د خصوصي سکتور له فعالینو، آزادو رسنیو او د ټولنیزو شبکو له فعالینو هیله کوي چې د بېلابېلو نوښتګرو برنامو په جوړولو، موږ سره د وطنی مینې په پاللو او د ملي روحیې په پیاوړې کولو کې مرسته وکړي. بیرغ زموږ د ځواک، مقاومت او پېژندګلوۍ سمبول دی، ځکه دې بیرغ لاندې مو د خپلې خاورې د آزادۍ او آبادۍ لپاره هلې ځلې کړي او هغه افغانستان مو جوړ کړی چې ددې وطن د هر وګړي ګډ کور دی.

ښه به دا وي چې خصوصي سکتور د دغه ورځې د نمانځنې لپاره، د ملي بیرغ تر سیوري لاندې بیوزلو سره مرسته او همکاري وکړي؛ آزادې رسنۍ په ممکنه بڼه دغه ورځ د خلکو لپاره یادګار او له ولولو ډکه کړي؛ او د ټولنیزو رسنیو فعالین د بیرغ په رپولو سره، په ولس کې د ملي او وطنۍ روحیې را ژوندۍ کولو لپاره نوښتونه وکړي.

د افغانستان حکومت د بیرغ د ورځې (۷ زمري) په نمانځنه کې ستاسې د نوښت او هلو ځلو ډېره مننه او درناوی کوي.

د بیرغ ملي ورځ

Arg1880 | Arg1880 | Arg_Afg

د جمهوري ریاست د عامه او ستراتیژیکو اړیکو اداره